امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

# هفته نامه مدیریت حوادث



۲۷ دلو الی ۲ حوت ۱۴۰۳

## شماره نودو ششم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګی ملی ادارې سرپرست د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګی ریاست د اداری د ودانی د جوړولو په پرانیست غونډه کې ګډون وکړ.



له پېښو سره د مبارزې آمادګی ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۶ نیټه میدان وردګ ولایت ته سفر وکړ او د یاد ریاست د ودانی په افتتاح غونډه کی یې ګډون وکړ چې د یاد ولایت والی محترم قاری بختیار معاذ، د ولایت مرستیال محترم حافظ سید الرحمن، د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګی رئیس محترم مولوی فیض‌الله جلالی، د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس محترم مولوی جانان سائق، د ارشاد او دعوت رئیس محترم مولوی عبدالخالق عابد، د تدارکاتو آمر محترم مولوی احمدشاه ذهین، او یو شمېر نورورېسانو او د سیمې خلکوحضور درلود...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د OMAR موسسې د ماین‌پاکۍ پروګرام له مسئول سره د ۴۰۰ زره ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، د OMAR موسسې د ماین‌پاکۍ پروګرام له مسئول محترم فضل الرحیم رحیمی او د دې موسسې حقوقی سلاکار انجینر عبدالرحمن احمدزی...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اداری ودانۍ د جوړولو کار پرانست



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی کاپیسا ولایت ته د سفر پر مهال د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اداری ودانۍ د جوړولو د کار په پرانست غونډه...

ادامه در صفحه۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست په روسیه کې مېشت د افغان سوداګر له لوری مرسته شوی خوراکی توکی ترلاسه کړل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابی، په روسیه کې مېشت د افغان سوداګر حاجی نادرشاه له لوری مرسته شوی خوراکی مرستې د افغان بزنس سنټر د استازی محترم عبدالسمیع الکوزی...

ادامه در صفحه ۴

## له پېښو سره د مبارزې آمادګی ملی ادارې سرپرست د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګی ریاست د اداری د ودانۍ د جوړولو په پرانیست غونډه کی ګډون وکړ.



له پېښو سره د مبارزې آمادګی ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۶ نیټه میدان وردګ ولایت ته سفر وکړ او د یاد ریاست د ودانۍ په افتتاح غونډه کی یې ګډون وکړ چې د یاد ولایت والی محترم قاری بختیار معاذ، د ولایت مرستیال محترم حافظ سید الرحمن، د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګی رئیس محترم مولوی فیض‌الله جلالی، د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس محترم مولوی جانان سائق، د ارشاد او دعوت رئیس محترم مولوی عبدالخالق عابد، د تدارکاتو آمر محترم مولوی احمدشاه ذهین، او یو شمېر نوروریسانو او د سیمې خلکوحضور درلود.

ترابی صاحب جوړې شوې غونډې ته وویل چې نن موږ په میدان وردګ ولایت کی له پېښو سره د مبارزې آمادګی ملی ادارې ودانۍ د جوړولو کار، د ۱۳ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل کوو چې په ۶ میاشتی کی به تکمیل سی او د ۱۳ میلونه افغانیو په ارزښت موږ دری پوړیزه اساسی ودانۍ جوړوو چی یوه برخه به یی د خوراکی او غیر خواراکو توکو دګدام لپاره وی دویم پوړ به یې ۶ اطاقه دفترونه وی دریم پوړ به یی هم ۶ اطاق ولری چی ټول به ۲۶متره په ۱۴ متره کی ۳۶۴ متره مربع ګدام وی او ۱۲ اطاق دفتر به وی همداراز څلور دا ډول ودانۍ نوری هم په څلورو ولایتونو کی جوړیږی لکه کاپیسا، خوست ، کندهار او سمنګان چی هغه به هم هر تعمیر د ۱۳ میلنو افغانیو په لګښت جوړ سی.

په همدې حال کې، د میدان وردګ والی محترم قاری بختیار معاذ، له پېښو سره د مبارزې آمادګی ملی ادارې سرپرست ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ، د یادې ادارې او د امارت اسلامی د مشرتابه هڅې وستایلې او ویې ویل چې د دغو پروژو تطبیق د ټولنې د پرمختګ لپاره یو مهم ګام دی.

همداراز، د له پېښو سره د مبارزې آمادګی رئیس مولوی فیض‌الله جلالی ژمنه وکړه چې د ودانۍ د باکیفیتع جوړولو د بهیر څخه به جدی څارنه کوی.

## موسسې د ماین‌پاکۍ پروګرام له مسئول سره د OMAR له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د ۴۰۰ زره ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک کړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، د OMAR موسسې د ماین‌پاکۍ پروګرام له مسئول محترم فضل الرحیم رحیمی او د دې موسسې حقوقی سلاکار انجنیر عبدالرحمن احمدزی سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۷ نیټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.



په دې ناسته کې، ترابی صاحب ټینګار وکړ چې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې لا هم ګڼ شمېر ماینونه او د جګړې پاتې چاودېدونکی توکی شتون لری. هغه زیاته کړه چې اوس له هر وخت څخه زیات، د موسسو لپاره ښه فرصت برابر شوی، ترڅو خپل فعالیتونه چټک کړی او ککړې سیمې ژر تر ژره پاکې کړی ترڅو خلک د ماینونو له خطرونو څخه وژغورل شی.

وروسته، د OMAR موسسې د ماین‌پاکۍ پروګرام مسئول فضل الرحیم رحیمی، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست له لوری له موسسو سره د همکاریو له امله مننه وکړه او ویې ویل چې OMAR

موسسه له ۱۹۹۲ کال راهیسې د هېواد په کچه د ماین‌پاکۍ په برخه کې فعالیت لري او خلکو ته يې ارزښتناک خدمات وړاندې کړي دي
ښاغلی رحيمی د تفاهم‌نامې جزئيات وړاندې کړل او څرګنده يې کړه چې دا پروژه د UN-OCHA دفتر په مالي ملاتړ، د هېواد د شمال او شمال ختیځ په ۹ ولایتونو کې د ۶۵ ولسواليو په کچه د ماین‌پاکۍ په برخه کې پلې کېږي، چې په دې پروژه کې د عامه پوهاوی او په ماينونو او ناچاودو توکو ککړو سيمو پاکولو او د سروې پروګرامونه شامل دي.
د يادونې وړ ده چې دا موسسه به د ۴۰۰,۰۰۰ ډالرو په ارزښت د بدخشان ولايت په ۸ ولسواليو، د تخار ولايت په ۱۶ ولسواليو، د کندز ولايت په ۲ ولسواليو، د بغلان ولايت په ۹ ولسواليو، د سمنګان ولايت په ۳ ولسواليو، د بلخ ولايت په ۱۰ ولسواليو، د جوزجان ولايت په ۶ ولسواليو، د فارياب ولايت په ۷ ولسواليو، او د سرپل ولايت په ۴ ولسواليو کې ۱۹۱,۷۶۴ متر مربع سيمې له ماينونه او ناچاودو توکو څخه پاکې کړي. همداراز، د ۸۰۰۰ کسانو لپاره يې د عامه پوهاوی برنامې ترسره کړي او ۱۸,۶۷۴,۷۴۲ متر مربع په ماينونو او ناچاودو توکو ککړې سيمې به سروې کړي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د کاپيسا ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د اداري ودانۍ د جوړولو کار پرانست



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابي کاپيسا ولايت ته د سفر پر مهال د ياد ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د اداري ودانۍ د جوړولو د کار په پرانست غونډه کې د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۰ نيته ګډون وکړ.
په دې پرانست غونډه کې د ياد ولايت والي قاري احسان الله بريال، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئيس مولوی محمد صابر احمد، د تدارکاتو آمر مولوی احمدشاه ذهين، او يو شمېر مشرانو او د سيمې خلکو شتون درلود.
ترابي صاحب جوړې شوې غونډې ته وويل چې نن موږ د کاپيسا ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د اداري ودانۍ د جوړولو کار، چې يوه عامه المنفعه پروژه ده، د ۱۳ ميليونه افغانيو په ارزښت پيلوو چې په ۶ مياشتو کې به بشپړ شي. او دا به درې پوړيزه اساسی ودانۍ وي، چې يوه برخه به يې د خوراکی او غير خوراکی توکو د ګدام لپاره وي دويم پوړ به يې ۶ اطاقه دفترونه وي دريېم پوړ به يې هم ۶ خونې ولري چې ټولټال به د ۳۶۴ مربع په ځمکه کې د ۲۶ په ۱۴ متره په اړخونو سره دا ودانۍ جوړه
همداراز ترابي صاحب زياته کړه چې تېره اوونۍ مو د ميدان وردګ ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د اداري ودانۍ د جوړولو کار پرانست او په راتلونکې کې به درې دا ډول نورې ودانۍ په دريو ولايتونو خوست، کندهار او سمنګان کې جوړېږي, چې هغه به هم هره ودانۍ د ۱۳ ميليونه افغانيو په لګښت جوړه شي.
همدارنګه ترابي صاحب د ياد ولايت له والي او له پېښو سره د مبارزې آمادګی رئيس څخه يې وغوښتل چې د دې پروژې له کيفيت او د کار چټکتيا څخه څارنه وکړي.
په همدې حال کې، د کاپيسا والي محترم قاری احسان الله بريال، له پېښو سره د مبارزې آمادګی ملی ادارې سرپرست ته د ښه راغلاست ويلو ترڅنګ، د يادې ادارې او د امارت اسلامی د مشرتابه هڅې وستايلې او ويې ويل چې د دې پروژې پلی کول د ټولنې د پرمختګ لپاره يو مهم ګام دی.
همداراز، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئيس مولوی محمد صابر احمد ژمنه وکړه چې د ودانۍ د جوړولو پر بهير به جدی څارنه وکړی او د کار کيفيت ته به ځانګړې پاملرنه وکړی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست په روسیه کې مېشت د افغان سوداګر له لوري مرسته شوي خوراکي توکي ترلاسه کړل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابي، په روسیه کې مېشت د افغان سوداګر حاجی نادرشاه له لوری مرسته شوی خوراکی مرستې د افغان بزنس سنټر د استازی محترم عبدالسمیع الکوزی لخوا د رسنیو او خبریالانو په شتون کې د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۱ نېټه ترلاسه کړې.

ترابي صاحب وویل: نن موږ ۴۰ ټنه خوراکی توکی، چې ۵۰۰ بورۍ ۵۰ کیلویی اوړه، ۵۰۰ بورۍ ۲۴.۵ کیلویی سیله وریجې، او ۵۰۰ بوتله ۵ لیټره غوړي پکې شامل دی، ترلاسه کوو. موږ د حاجی نادرشاه له دې نیک اقدام څخه مننه کوو او هیله لرو چې دا ډول مرستې دوام ومومی.

نوموړی زیاته کړه چې دا مرستې د روژې د مبارکې میاشتې په مناسبت برابرې شوې دی او د سروې او اړمنو کسانو له پېژندلو وروسته به د کابل ولایت په بېلابېلو ناحیو کې ووېشل شی. همداراز، نوموړی له نورو ملی سوداګرو او خیرو هېوادوالو څخه هم غوښتنه وکړه چې د اړمنو خلکو د ملاتړ لپاره خپلې مرستې وکړی.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، د سروې او د مرستو په وېش کې پر شفافیت د ټینګار سربېره، وویل: موږ له مؤسسو سره د ګډو همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک کړی دی. دا هوکړه لیکونه د بشردوستانه مرستو او د اړینو پروژو د عملی کېدو په برخه کې ګډې همکارۍ رانغاړی، چې له مخې به یې اړمنو خلکو ته لازمی مرستې برابرې شی.

## موسسې ترمنځ د ۷۰۰ زره ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو AREA له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي، د AREA موسسې له عمومی رئیس محترم نثار احمد عمرزی او د دې موسسې اداری مسئول محمد یوسف رحیمی سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۸ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

ترابي صاحب په دې غونډه کې د AREA موسسې پلاوی ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ ټینګار وکړ چې ماینونه او د جګړې پاتې چاودېدونکی توکی د خلکو لپاره جدی ګواښ بلل کېږی. هغه زیاته کړه چې د دې ستونزې د هواری لپاره باید د عامه پوهاوی برنامی لا پیاوړی شی او ماینونه باید په خوندی او مسلکی ډول له منځه یوړل شی.

وروسته د AREA مؤسسې عمومی رئیس نثار احمد عمرزی، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست څخه د غونډې لپاره د وخت ورکولو له امله مننه وکړه او ویې ویل چې AREA مؤسسه له ۱۹۹۳ کال راهیسې د ماین‌پاکۍ، کرنې، چاپېریالی روغتیا او د پرمختیایی چارو په برخو کې د هېواد په کچه فعالیت کوی او خلکو ته یې ارزښتناک خدمات وړاندې کړی دی.

ښاغلی عمرزی د تفاهم‌نامې جزئیات تشریح کړل او ویې ویل چې دا پروژه د UN-OCHA دفتر په مالی ملاتړ، د هېواد په ۱۶ ولایتونو کې د ۱۲۰ ولسوالیو په کچه د ماین‌پاکۍ په برخه کې پلی کېږی چې په دې پروژه کې د عامه پوهاوی او په ماینونو او ناچاودو توکو د ککړو سیمو د پاکولو برنامی شامل دی.

د یادونی وړ ده چې دا موسسه به د ۷۰۰،۰۰۰ (اووه سوه زره) ډالرو په ارزښت، د هېواد په ۱۶ ولایتونو کابل، کاپیسا، پروان، دایکندی، پکتیا، پکتیکا، خوست، لوګر، میدان وردګ، غزنی، کندهار، هلمند، هرات، فراه، غور او کونړ ولایتونو اړوند ۱۲۰ ولسوالیو کې په ماینونو او ناچاودو توکو ککړې سیمې پاکې کړی او ترڅنګ به یې سروې او د عامه پوهاوی برنامی ترسره کړی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د سرپرست او د DRC موسسې رئیسې ترمنځ د ۱,۲۲۴,۲۴۲ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، د DRC مؤسسې له رئیسې دانیا الشریف او د هغې مل پلاوی سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۸ نیټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.
په دې ناسته کې، ترابی صاحب د DRC موسسې پلاوی ته د ښه راغلاست ویلو ترځنګ څرګنده کړه چې موږ د موسسو د فعالیتونو لپاره لازمې اسانتیاوې برابرې کړې دی، د دوی کارونه په خپل وخت ترسره کوو، او له هغوی څخه هم غواړو چې خپل کارونه په چټکۍ او روڼتیا سره سر ته ورسوی.
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست د قرانکریم آیتونو ته په اشارې سره وویل چې د یو انسان د ژوند ژغورنه د ټول بشریت د ژغورنې په معنا ده. نوموړی د ماین پاکۍ له موسسې وغوښتل چې خپل فعالیتونه ګړندی کړی او ژر تر ژره په ماینونو او ناچاودو توکو ککړې سیمې پاکې کړی، تر څو خلک له احتمالی خطرونو وژغورل شی.
وروسته، د DRC مؤسسې رئیسې، دانیا الشریف، د ادارې له سرپرست څخه د موسسو د فعالیتونو لپاره د مناسبو شرایطو د برابرولو له امله مننه وکړه او د دې موسسې د روانې پروژې په اړه یې معلومات وړاندې کړل. هغې وویل چې په دې پروژه کې د ماینونو او ناچاودو توکو د خطرونو په اړه د عامه پوهاوی، سروې او د ککړو سیمو د پاکولو برنامې شاملې دی.
د یادونې وړ ده چې دغه موسسه به د ۱,۲۲۴,۲۴۲(۱ میلیون، ۲۲۴ زره او ۲۴۲) ډالرو په ارزښت، په ماینونو او ناچاودو توکو ککړې ۲۲۴،۴۰۰ مترمربع سیمې سروې او پاکې کړی. دا فعالیتونه به په کابل، پروان، لوګر، میدان وردګ او غزنی ولایتونو کې ترسره شی، چې ۴,۱۹۵ کسان به په مستقیم او غیر مستقیم ډول له دغو فعالیتونو څخه ګټه واخلی، او ۱۲,۹۶۰ کسانو ته به د ماین او ناچاودو توکو له خطرونو څخه د خوندیتوب په موخه عامه پوهاوی ورکړل شی.

## د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۸۱۰ زیانمنو شوو او اړمنو کورنیو ته نغدی ژمنۍ مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او په آسیا کې د ټولنیزو نړیوالو خدمتونو (CWSA) موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۹ نیټه د یاد ولایت د مرکز اړوند ۱۸۱۰ زیانمنو شوو او اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته، نغدی مرستې ووېشلې.



په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۲۹۲۰ افغانۍ ووېشل شوې چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره ۵,۲۸۵,۲۰۰ ( ۵ میلونه، ۲۸۵ زره او ۲۰۰ ) افغانۍ ځانګړې شوې وې.
د یادونې وړ ده، چې پورتنیو یادو کورنیو ته د CWSA موسسه په راتلونکو میاشتو کې، نورې نغدی ژمنۍ مرستې هم په پلان کې لری.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د افغانستان لپاره د ناروی کمپټې له عمومي رئیس سره د ۷۰۹،۷۱۵ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابی، د افغانستان لپاره د ناروی کمپټې له عمومي رئیس، تاریا مګنوسون واټرډال، د بشری مرستو د پروګرامونو مسئول ذبیح‌الله رحمتی، د اړیکو مسئول مجیب‌الله شیرزوی، او د تمویل کوونکو سره د اړیکو مسئول غفار رحمتی سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۹ نیټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو لپاره یې تفاهم‌نامه ورسره لاسلیک کړه.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابی، د ناروی کمپټې پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چې موسسې باید خپل کارونه په ځانګړی ډول د ژمنیو مرستو د وېش چارې ګړندۍ کړی، ترڅو خلک پر وخت ګټه ترې واخلی.

ترابی صاحب زیاته کړه چې هڅه کوو د موسسو کارونه ژر تر ژره ترسره کړو، ترڅو د افغانستان خلک د دوی له خدمتونو ګټه برخمن شی. نوموړی وویل چې موږ هڅه کوو د ا.ا.ا د اصولو او چوکاټ په رڼا کې تل د موسسو سره لازمه همکاری وکړو.

ترابی صاحب دا هم وویل چې افغانستان د خپل جغرافیایی موقعیت له امله له بېلابېلو طبیعی پېښو سره مخ دی، او له ناروی کمپټې درئیس څخه یې وغوښتل چې د پېښو د خطرونو کمولو لپاره د وقایوی پروژو په پلی کولو کې دی هم له دې ادارې سره همکاری وکړی.

وروسته، د افغانستان لپاره د ناروی کمپټې عمومی رئیس، تاریا مګنوسون واټرډال، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست څخه د همکاریو له امله مننه وکړه او د دې کمپټې د بېلابېلو خدماتو په اړه یې معلومات وړاندې کړل. نوموړی ژمنه وکړه چې د پېښو د خطرونو په اړه د عامه پوهاوی برنامو ترسره کولو او د وقایوی پروژو پلی کولو په برخه کې به هم له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سره همکاری وکړی.

ښاغلی واټرډال د دې موسسې د روانې پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل، چې په دې پروژه کې د کابل ولایت په شکردره ولسوالۍ او د پکتیکا ولایت په برمل ولسوالۍ کې د ژمنیو مرستو او د زیانمنو کورنیو لپاره د سرپناه جوړولو چارې شاملې دی.

د یادونې وړ ده چې دا کمپټه به د ۷۰۹,۷۱۵ (۷۰۹ زره او ۷۱۵) ډالرو په ارزښت، د کابل ولایت په شکردره ولسوالۍ کی ۵۱۱ مستحقو کورنیو هرې یوې ته ۲۰۰ ډالر یا معادل یې په افغانیو کې، او د ۷۴ ډالرو په ارزښت ۵ تختې (یوه دوه‌کسیزه او څلور یوکسیزې) کمپلې ووېشی. همداراز، د پکتیکا ولایت په برمل ولسوالۍ می ۲۸۲ زیانمنو کورنیو ته به مرستې ویشل کېږی، په دې توګه، چې ۶۸ کورنیو ته به د دویم او دریم قسط په توګه ۱۶۲۰ ډالر یا معادل یې په افغانیو کې ورکړل شی، او ۲۱۴ کورنیو ته به د دویم او دریم قسط په توګه ۱۳۱۰ ډالر یا معادل یې په افغانیو کې د کورونو د جوړولو لپاره ورکړل شی.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ له ریاست څخه لیدنه وکړه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، کاپیسا ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۰ نیټه د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له کارکوونکو سره د هغوی د ستونزو، نظرونو او وړاندیزونو د اورېدو په موخه وکتل.

په دې کتنه کې، د ادارې سرپرست د یاد ریاست له هر کارکوونکی سره په جلا جلا توګه وکتل او د هغوی وړاندیزونه او ستونزې یې واورېدې او د حل لپاره یې د همکارۍ ډاډ ورکړ.

ترابی صاحب د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست کارکوونکو ته ووېل چې د مراجعینو سره نیک چلند، د کارونو پر وخت او بې له ځنډه ترسره کول، د بیت المال په سمه توګه کارول او اداری اصول مراعاتول باید په جدی توګه پام کې ونیسی. همداراز، نوموړی له هغوی وغوښتل چې د ولس ریښتینی خدمت کوونکی واوسی او د هېواد د پرمختګ او ښېرازۍ لپاره خپله ټوله انرژی او مسلکی پوهه په سمه توګه وکاروی.

په پای کې، د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست کارکوونکو د ادارې له سرپرست څخه د دوی د حال احوال اخیستلو او د ستونزو د اورېدو له امله مننه وکړه. همداراز، هغوی ډاډ ورکړ چې د ادارې د مشرتابه د لارښوونو او پریکړو سره سم به خپل کاری پلانونه لا په ښه توګه عملی کړی.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د افغانستان لپاره کنسرن نړیوالې مؤسسې له رئیس سره وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابی، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۰ نیټه په خپل کاری دفتر کې د افغانستان لپاره د کنسرن نړیوالې مؤسسې له رئیس محترم شهزاد جمیل، او د اړیکو او همغږۍ مسوول عبدالحق شریفی سره لیدنه او خبرې وکړې.

په دې ناسته کې، ترابی صاحب د یادې مؤسسې پلاوی ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ ټینګار وکړ چې افغانستان د خپل جغرافیایی موقعیت له امله تل له بېلابېلو طبیعی پېښو سره مخ دی، چې هر کال د هېوادوالو د ځانی تلفاتو او مالی زیانونو لامل ګرځی. نوموړی له هغو مؤسسو چې د پېښو د مدیریت په برخه کې فعالیت کوی، وغوښتل چې د وقایوی پروژو پلی کولو ته لا ډېره پاملرنه وکړی.

ترابی صاحب زیاته کړه چې موږ به د مؤسسو لپاره لازمې اسانتیاوې برابرې کړو، خو له هغوی څخه هم تمه لرو چې په خپلو کارونو کې شفافیت او چټکتیا راولی.

وروسته، د افغانستان لپاره د کنسرن نړیوالې موسسې رئیس، شهزاد جمیل، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له همکاریو مننه وکړه او د یادې موسسې د تېرو پروژو راپور یې وړاندې کړ، او د راتلونکو همکاریو پر دوام یې ټینګار وکړ.

نوموړی همداراز څرګنده کړه چې په راتلونکو پروژو کې به، د بشری مرستو ترڅنګ، د وقایوی پرژو پلی کولو ته هم ځانګړې پاملرنه وکړی.

## ترمنځ د ګډو همکاریو په اړه (WFP) له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د خوړو نړیوال پروګرام تخنیکي غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د خوړو نړیوال پروګرام تر منځ د ګډو همکاریو په اړه تخنیکي غونډه د کارکوونکو چارو رییس؛ الحاج مولوی محمد عابد نعمانی، د پلان او پالیسۍ رییس؛ ملا محمد جاوید عباس، د خوړو د نړیوال پروګرام د اړیکو مسؤل؛ اون شیورټ، د بیړنیو چارو مسؤل؛ منصف الله انوری، د پلان جوړونې مسؤل؛ عبدالرزاق ایوبی، د بشری مرستو مسؤل؛ عبدالغفور نوابی او د دې ادارې د یو شمېر نورو آمرینو په شتون کې د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۱ نیټه ترسره شوه.

په دې غونډه کې، د کارکوونکو چارو رییس الحاج مولوی محمد عابد نعمانی ټینګار وکړ، چې د خوړو نړیوال پروګرام تل د افغانستان له خلکو سره بشری مرستې کړې دی، چې له امله یې د دغې موسسې قدردانی کوو او د مرستو د دوام او لا زیاتوالي غوښتونکی یو.

هغه زیاته کړه، چې د دې ادارې فعالیتونه غیر سیاسی دی او اصلی موخه یې له زیانمنو شوو کسانو سره مرسته ده. هغه همداراز د خوړو له نړیوال پروګرام څخه وغوښتل چې خپلې مرستې له پخوا لا زیاتې کړي.

په ورته وخت کې د خوړو نړیوال پروګرام د اړیکو مسؤل آن شیورټ، د دغې ادارې له همکارۍ مننه وکړه او ویې ویل چې د دوی سازمان تل هڅه کوی چې خلکو ته لا ښه خدمات وړاندې کړي.

هغه ټینګار وکړ چې دواړه خواوې به په ګډه کار کوی تر څو زیانمنو کورنیو ته د مرستو رسولو لړۍ چټکه او لاښه خدمات ورته وړاندې کړي.

وروسته د غونډې ګډونوالو د خپلو فعالیتونو او لاسته راوړنو تفصیلی راپورونه وړاندې کړل او د بشری مرستو په برخه کې یې د دوامداره همغږۍ او همکارۍ پر اړتیا ټینګار وکړ.

## ترمنځ د ۳۹۸،۱۶۸ ډالرو په (HIHAO) له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د لاس په لاس موسسې ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، د لاس په لاس موسسې (HIHAO) له اجرائیوی رئیس ډاکټر احمد کامران حکمتی سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۱ نیټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

ترابی صاحب په دې لیدنه کې ټینګار وکړ چې زما د کار پالیسی د موسسو لپاره د مرستو رسولو او د هغوی د فعالیتونو زمینه برابرول ده، او هڅه کوم چې د دوی چارې پر خپل وخت ترسره کړم. هغه همداراز له مؤسسو وغوښتل چې د خپلې بودجې زیاته برخه د وقایوی پروژو لپاره ځانګړې کړی چې خپلې چارې باید په چټکۍ او روڼتیا سره ترسره کړی.

وروسته، ډاکټر احمد کامران حکمتی، د لاس په لاس مؤسسې اجرائیوی رئیس، د تفاهم‌نامې جزئیات وړاندې کړل او ویې ویل چې په دې پروژه کې د کورنیو لپاره د نغدی مرستو برابرولو، د خوراکی توکو چمتو کولو، او همداراز د سبزیجاتو اصلاح‌شوی تخمونو او کرنیزو وسایلو د وېش پروګرامونه شامل دی، چې د هرات ولایت په پنځو ولسوالیو کې به بزګرانو ته ورکړل شی.

د یادونې وړ ده چې دا مؤسسه به د ۳۹۸،۱۶۸ ( ۳ لکه، ۹۸ زره او ۱۶۸) ډالرو په ارزښت، په څلورو پړاوونو کې، ۱،۲۷۷ کورنیو هرې یوې ته ۱۶۸ ډالر په پښتون‌زرغون، غوریان، ګلران، اوبه، او کشک ولسوالیو کې وویشی. سر بېره پر دې، ۱،۷۰۰ بزګرانو ته به په همدې ولسوالیو کې د سبزیجاتو اصلاح شوی تخمونه او د ۵۰ ډالرو په ارزښت کرنیز وسایل هم وویشل شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې مرکزی کارمندانو ۵ کسیز ټیم د څارنې او ارزونې هیئت د ترابی صاحب په هدایت د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه کتنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې ۵ کسیز ټیم کارمندانو چې د څارنې او ارزونې ریاست څخه د ارزونې امر، د خطر د مخنیوی او کمولو ریاست څخه دپېښو د خطرونو کمولو کار پوه، د بیړنیو حالتو د ریاست څخه د اسنادو د ثبت مدیر، د کارکونکو د چارو ریاست څخه د پلان جوړنی مدیر او دنشراتو او عامه اړیکو ریاست څخه د کلیپونو جوړولو او عامه پوهاوی مدیر د څارنې او ارزونې، د کارونو د لا شفافیت او پرمختګ په موخه د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۸ نیټه د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه کتنه وکړه.

دا څارنه او ارزونه چې لمړۍ د مرکزی ریاستونو د کارمندانو څخه شروع شوې ده ورسته د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه کتنه وسوه او تیره ورځ یک شنبه ۳۳ ولایتونو ته د زونونو په حساب هر زون ته ۵ کسیز هیئت ولیږل سو چې و به وکولای سی چې د ولایتی ریاستونو په کارونو کی به پوره شفافیت، پرمختګ او چټکتیا راولی او ټول کارمندان به د خپلو لایحو او کاری پلانونو مطابق کارو ته متوجې کړی تر څو اولس ته غوره او پر وخت خدمتونه وکړی.

غزنی ولایت ته استول شوې ۵ کسیز ټیم وایی چې موږ د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارز آمادګۍ ریاست د ټولو شعباتو، کارونو، دوسیو، ګدام او اسنادو څخه څارنه وکړه او د ټولو کارمندانو څخه مو د دندو د لایحو او کاری پلان پوښتنه وکړه او ټولو ته مو سپارښتنه وکړه چې خپل کارونه پر وخت خلاص کړی او هغه اسنادونه د ځان سره وساتی چې دیادی ادارې څخه ورته راځی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د څارنې او ارزونې پلاوی د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست د لارښوونې له مخې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې پنځه کسیز ټیم چې د ANDMIS عمومی مدیر، د زلزلې کارپوه، د پالیسو او پروګرامونو د تطبیق د څارنې کارپوه، د اطلاعاتو عمومی مدیر او د HRMIS مسلکی غړی پکې شتون درلود د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه یې د فعالیتونو د نظارت، ارزونې، د لا زیات شفافیت او پرمختګ په موخه د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۹ نیټه لیدنه وکړه.

د څارنې او ارزونې په دې لړۍ، چې لومړی د مرکزی ریاستونو له کارکوونکو څخه پیل شوه، ورپسې د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ له ریاست څخه هم پکې لیدنه ترسره شوه. تېره ورځ یکشنبه، د ولایتونو دریاستونو په کارونو کې د شفافیت، لا پرمختګ او چټکتیا د رامنځته کېدو او د ټولو کار کوونکو د کاری پلانونو او لایحو د تطبیق په موخه د زونونو د وېش له مخې د هېواد ۳۳ ولایتونو ته، پنځه کسیز پلاوی ولېږل شو تر څو خلکو ته ښه او پر وخت خدمات وړاندې کړی.

بغلان ولایت ته استول شوی پنځه کسیز ټیم ویلی، چې په یاد ولایت کې یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ټولو څانګو، فعالیتونو، دوسیو، ګودامونو او اسنادو څخه لیدنه کړې او له ټولو کارکوونکو څخه یې د دوی د کړنو او کاری پلانونو په اړه پوښتنې کړې دی. همدارنګه ټولو کارکوونکو ته یې لارښوونه کړې ده چې خپلې دندې پر خپل وخت ترسره کړی او اړوند اسناد چې له دې ادارې څخه یې ترلاسه کوی په سمه توګه وساتی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې مرکزی کارمندانو ۵ کسیز د څارنې او ارزونې هیئت د ترابی صاحب په هدایت د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د دوو ورځو په موده کې کتنه وکړه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې ۵ کسیز ټیم کارمندانو چې د څارنې او ارزونې ریاست څخه د ارزونې امر، د خطر د مخنیوی او کمولو ریاست څخه دپېښو د خطرونو کمولو کار پوه، د بیړینو حالتو د ریاست څخه د اسنادو د ثبت مدیر، د کارکونکو د چارو ریاست څخه د پلان جوړنې مدیر او دنشراتو او عامه اړیکو ریاست څخه د کلیپونو جوړولو او عامه پوهاوی مدیر د څارنې او ارزونې، د کارونو د لا شفافیت او پرمختک په موخه د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۰ نیټه کتنه وکړه.

دا څارنه او ارزونه چې تیره یک شنبې د ترابی صاحب په هدایت ۳۳ ولایتونو څخه شروع شوې ده د زونونو په حساب هر زون ته ۵ کسیز هیئت لیږل سوی دی چې و به وکولای سی چې د ولایتی ریاستونو په کارونو کی به پوره شفافیت، پرمختګ او چټکتیا راولی او ټول کارمندان به د خپلو لایحو او کاری پلانونو مطابق کارو ته متوجې کړی تر څو اولس ته غوره او پر وخت خدمتونه وکړی.

جنوب غرب زون ته ته استول شوی ۵ کسیز هیئت وایي چې موږ د ددو ورځو په موده کی د زابل ولایت له پېښو سره د مبارز آمادګۍ ریاست د ټولو شعباتو، کارونو، دوسیو، ګدام او اسنادو څخه څارنه وکړه او د ټولو کارمندانو څخه مو د دندو د لایحو او کاری پلان پوښتنه وکړه او ټولو ته مو جدی سپارښتنه وکړه چې خپل کارونه پر وخت خلاص کړی او د ټولو شعباتاتو مخ ته لوحې نصب شوې نومونه یې پر ولیکل او د ټولو شعباتو پر دروازو لوګوګانی ونښلول شوې او ټولو کارمندانو ته توصیه وشوه چې هغه اسنادونه د ځان سره وساتی چې د مرکزی ادارې څخه ورته راځی.

---

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې وویشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ARCI موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۶ نیټه د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په تخنیکی همکارۍ او د خوراک نړیوال سازمان (WFP) په مالی ملاتړ، د یاد ولایت په مرکز مهترلام او بېلابېلو ولسوالیو کې د وروستیو طبیعی پېښو له امله ۳۵ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړی، ۱۲.۵ کیلو دال، ۱ کیلو مالګه، انرژی لرونکی بسکېټ او د ماشومانو او مېندو لپاره تغذیوی مواد او سوپر سېریل وویشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار مبلغ ۱,۹۱۱,۰۰۰ افغانی را به ۶۵۰ خانواده نیازمند توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه Arada به امضا رسیده بود، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار، با حمایت مالی این مؤسسه، پس از بررسی و سروی، کمک‌های نقدی را به ۶۵۰ خانواده نیازمند در ولسوالی گوشته این ولایت بتاریخ ۲۰ شعبان سال ۱۴۴۶ هـ ق توزیع کرد.

در این روند، برای هر خانواده مبلغ ۲,۹۴۰ افغانی در مرحله سوم، به هدف تأمین مواد غذایی، در حضور مسئولین توزیع شد که در مجموع مبلغ ۱,۹۱۱,۰۰۰ افغانی (یک میلیون و نهصد و یازده هزار) افغانی برای آنان اختصاص یافته بود.

قابل یادآوری است که این کمک‌ها به خانواده‌هایی که به دلیل خشکسالی متضرر شده‌اند، صورت گرفته است.

## د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۰۰ زیانمنو شوو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




له پېښو د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او CWSA ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۶ نېټه د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د دې ولایت د یکاولنګ ۲ ولسوالۍ اړوند ۹۰۰ اړمنو او زیانمنو شوو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسوولینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۲۹۲۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال ۲,۶۲۸,۰۰۰ ( ۲ میلیونه او ۶۳۸ زره ) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

د یادونې ده، چې یاده موسسه په راتلونکو دوو میاشتو کې له دې کورنیو سره نورې نغدی مرستې هم په پلان کې لرې.

## د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ٦۳۲ زیانمنو کورنیو ته نغدی او غیر نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ACHRO موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۷ نېټه د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، ٦۳۲ د سیلاب له امله زیانمنو شوو کورنیو ته نغدی او غیر نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، له زیانمنو کورنیو څخه یې ٦۰۰ هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲۰۰ امریکایی ډالر، ۵ تختې کمپلې او پاتې ۳۲ کورنیو ته یې ۲۷۵ امریکایی ډالر ووېشل شول.

## د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۶۰ کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې




له یونیسف موسسې سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د سرپرست د همغږۍ په بنسټ, د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۸ نیټه د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي همکارۍ, ۱۶۰ مستحقو او بېوزله کورنیو ته د یاد ولایت په مرکز کې له سروې وروسته غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې یو روغتیایي کېټ ووېشل شو.
ورته مهال د مرستو ترلاسه کوونکو له یاد ریاست او موسسې څخه د مرستو په پار مننه او قدرداني وکړه.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱٦۱ بېوزله کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ژغورنې نړیوالې کمېټې (IRC) ترمنځ د لاسلیک شوې هوکړه لیک له مخې، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۹ نیټه د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې کمېټې په مالي ملاتړ، د دې ولایت د سره رود ولسوالۍ اړوند ۱٦۱ بېوزله کورنیو ته له سروې وروسته نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته د پنځم پړاو، ۲,۹۰۰ افغانۍ د خوراکي توکو د پېرلو په موخه د مسؤلینو په شتون کې ووېشل شوې، چې ټولټال ٤٦٦,۹۰۰ ( ٤٦٦ زره او ۹۰۰ ) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.
د یادونې وړ ده، چې په راتلونکې کې د یادو اړمنو کورنیو لپاره نورې مرستې هم په پلان کې نیول شوې دی.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان برای ۱۱۰۰ خانواده آسیب‌پذیر مساعدت نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که قبلاً میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه خدمات اجتماعی جهان در آسیا(CWSA) به امضا رسیده بود، بتاریخ ۱۸ شعبان سال ۱۴۴۶ هـ ق ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت مالی مؤسسه متذکره، برای ۱۱۰۰ خانواده آسیب‌پذیر و نیازمند در ولسوالی یکاولنگ بعد از سروی مساعدت نقدی توزیع نمود.
در این پروسه با حضور مسوولان به هر خانواده مبلغ ۲۹۲۰ افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ ۳،۲۱۲،۰۰۰ افغانی برای این خانواده‌ها اختصاص یافته بود.
باید گفت موسسه متذکره در دو ماه آینده نیز این خانواده‌ها را تحت پوشش این مساعدت‌ها قرار خواهد داد.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۲۳ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د UN-HABITAT موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۹ نېټه د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د دې ولایت د سرخرود ولسوالۍ اړوند ۳۲۳ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته د لومړی قسط ۳۰۰ امریکایی ډالر د مسؤلینو په شتون کې ووېشل شول، چې ټولټال ۹۶,۹۰۰ ډالر د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړی شوی وو.

د یادونې وړ ده، چې یادې مرستې له دې کورنیو سره د کورونو د ترمیم په موخه ترسره شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل برای ۲۳۰ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غیرخوراکی توزیع کرد



براساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه درمان، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل با حمایت مالی این مؤسسه، پس از سروی، برای ۲۳۰ خانواده آسیب‌دیده از حوادث طبیعی کمک‌های غیرخوراکی بتاریخ ۱۸ شعبان سال ۱۴۴۶ هـ ق توزیع کرد.

در این روند، با حضور مسئولان، به هر خانواده دو تخته کمپل و دو جمپر زمستانی کودکان توزیع شد.

## د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۴۹ مستحقو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ژغورنې نړیوالې کمېټې IRC ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۰ نېټه د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې کمېټې په ملاتړ، د دې ولایت د مرکز اړوند ۳۴۹ مستحقو کورنیو ته د پنځم پړاو لپاره نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۱٤,۵۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره ۵,۰۶۰,۵۰۰ ( ۵ میلیونه، ۶۰ زره او ۵۰۰ ) افغانۍ په ورکول سوی د یادونې ده، چې په دې ولایت کې ټولې ۱۳۰۰ کورنۍ مستحقې پېژندل شوې وې، چې پاتې ۹۵۱ کورنیو ته به په راتلونکو ورځو کې نغدی مرستې ووېشل شي.

# د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۷ بېوزله کورنیو ته د نغدی پیسو مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د Arada موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۱ نیټه د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د دې ولایت په ګوشته ولسوالۍ کې ۷۷ بېوزله کورنیو ته د مسؤلینو په شتون کې، نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته له سروې وروسته د دریم پړاو ۲,۹۴۰ افغانۍ د خوراکی توکو د پېرلو په موخه ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره ۲۲۶,۳۸۰ ( ۲ لکه، ۲۶ زره، ۳ سوه او ۸۰ ) افغانۍ نغدی پیسې ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې یادې مرستې د وچکالۍ له امله، زیانمنو شوو کورنیو ته ور کړل شوې.

# د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۱۱ شهیدانو ورثه ته نغدی مرستې ووېشلې



د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۰ نیټه د ۱۱ شهیدانو ورثه ته چې د کورنۍ غړي یې د طبیعی او غیرطبیعی پېښو له امله شهیدان شوی وو، نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۴۰,۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې چې ټولټال ۴۴۰,۰۰۰ افغانۍ د هغوی لپاره ځانګړې شوی وې.

په پای کې له مرستو برخه منو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه مننه او قدردانی وکړه.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۵۹۳ خانواده نیازمند کمک‌های نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه Arada، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با حمایت مالی این مؤسسه، پس از انجام سروی، برای ۵۹۳ خانواده نیازمند در مربوطات ولسوالی گوشته آن ولایت کمک‌های نقدی بتاریخ ۱۹ شعبان سال ۱۴۴۶ هـ ق توزیع نمود.

در این روند، با حضور مسئولین، در مرحله سوم، به هر خانواده مبلغ ۲,۹۴۰ افغانی به منظور خرید مواد غذایی توزیع شد که در مجموع مبلغ ۱,۷۴۳,۴۲۰ (یک میلیون، هفتصد و چهل‌وسه هزار و چهارصد و بیست) افغانی برای آنان اختصاص یافته بود.

قابل ذکر است که این کمک‌ها به خانواده‌هایی که از خشکسالی آسیب دیده‌اند، توزیع شده است.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان برای ۱۲ خانواده آسیب‌دیده مواد خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان، به اساس هدایت مقام ولایت بتاریخ ۱۷ شعبان سال ۱۴۴۶ هـ ق برای ۱۲ خانواده که از اثر آتش‌سوزی آسیب‌دیده بودند، بعد از سروی مواد خوراکی و غیر خوراکی توزیع کرد.

در این پروسه با حضور مسوولان به هر خانواده ۵۰ کیلو برنج، ۱۵ لیتر روغن، ۲ عدد سطل آب، ۲ تخته کمپل، ۱ تخته ترپال و یک بسته صحی و از جمله برای یک خانواده آن که منزل‌اش به طور کلی تخریب گردیده بود یک باب خیمه نیز توزیع گردید.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۲ بېوزله کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ژغورنې نړیوالې کمیټې (IRC) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۰ نېټه د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې کمېټې په مالی ملاتړ، د یاد ولایت سره رود او بهسود ولسوالیو او مرکز جلال آباد ښار اړوند ۱۲۲ بېوزله کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته د پنځم قسط ۲,۹۰۰ افغانۍ وویشل شوې چې ټولټال ۳۵۳,۸۰۰ (۳۵۳ زره او ۸۰۰) افغانۍ نغدی پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوی وې.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۰ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د CWSA موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۸ نېټه د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د یاد ولایت په الینګار ولسوالۍ کې د طبیعی پېښو له امله ۱۲۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۴,۶۲۲ افغانۍ وویشل شوې چې ټولټال ۱,۷۵۴,۶۴۰ (۱ میلیون، ۷۵۴ زره او ۶۴۰) افغانۍ نغدی پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## عامه پیغامونه :

13. داحتمالي سیلاب راوتلو په سیمو کې د ودانیو له جوړولو څخه ډډه وکړئ
14. د سیلاب زور او قوت ته په کمه سترګه مه ګورئ
15. مخکې تر دې چې ستاسو ځمکه یا باغ سیلاب یوسې استنادي دیوالونه ورته جوړ کړئ
16.په هغو ځایونو کې چې د واروي ښویدو یا غر ښویدو احتمال وي په احتیاط ورڅخه تېرېږئ